**PASHTO**

TULSA PUBLIC SCHOOLS

**یوازې بیرته راستانه کړئ که چیرې زده کونکي بهر وتل غوره کوي**

ګرانو والدینو او سرپرستانو:

د Tulsa Public Schools د ولسوالۍ د ښوونځي بورډ د مقرراتو په ملاتړ، **Tulsa Health Department/Youth Services of Tulsa** (د تولسا روغتیا ریاست/د ځوانانو خدمتونه) به **د 7م ټولګي ساینس ټولګي کې شامل شوي ټولو زده کونکو** ته *Positive Prevention PLUS (د مثبت مخنیوي جمع نصاب)* چمتو کوي. دا 13 درس، د شواهدو پر اساس پروګرام زده کونکو ته پوهه، ډاډه توب او sexually transmitted infections (په جنسي توګه خپریدونکي انتاناتو) (STIs)، Human Immunodeficiency Virus (د انسان معافیت ویروس) (HIV)، او غیر پلان شوي امیندوارۍ خطر کمولو لپاره اړین مهارتونه وړاندې کوي. د دې نصاب U.S. Department of Health and Human Services (د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدمتونو څانګې) لخوا په بشپړه توګه بیاکتنه شوی. ټول درسونه په طبي لحاظ دقیق، د عمر مناسب، او د ټولو زده کونکو په شمول دي. نصاب به د تولسا روغتیا ریاست یا **د تولسا د ځوانانو خدمتونو څخه د روزل شوي ښوونکو لخوا وښودل شي.**

د *مثبت مخنیوي پلس/جمع* منځنی ښوونځی لاندې معلومات پوښي:

- د ځوانی وده او پرمختګ
- د راتلونکو پلانونو لپاره د هدف ترتیب
- د انسان د بدن د غړو پیژندنه او د انسان د تولید نسل طریقه
- پرهیز، د غیر پلان شوي امیندوارۍ د مخنیوي یوازینی ځانګړې لار، او STI's، لکه HIV
- محلي سرچیني لکه د تولسا روغتیا څانګه، د ټولنې روغتیا ارتباط، او نور د سیمې روغتیایي مرکزونه چې د تولید روغتیایي پاملرنې وړاندې کوي
- د غیر پلان شوي امیندوارۍ خطر پیژندل او کمول، او د STIs خپرونه، لکه HIV
- د HIV او Acquired immunodeficiency syndrome (ترلاسه شوي د معافیت سنډروم) (AIDS) په اړه ټولنیز نظرونه، د HIV انفیکشن په اړه افسانې او بابیزه مفکورې
- HIV او نور STIs څنګه خپریږي، د HIV او STI's د مخنیوي لپاره منظور شوي طریقې، لکه پرهیز او کنډوم/پوکانې
- د HIV او نورو STIs درملنه څنګه کیږي
- امیندوارۍ څنګه واقع کیږي، په شمول د مخنیوي طریقې
- صحي اړیکي او د غیر صحي چلندونو او حالاتو څخه ډډه کول

د *مثبت مخنیوي پلس/جمع* هدف! ځوانان د هغه انتخابونو کولو لپاره ځواکمن کول دي چې د دوی د غیر پلان شوي امیندوارۍ یا په HIV او نورو STIs اخته کیدو خطر به کم کړي.

د زده کوونکو برخه اخیستنه داوطلبانه او محرمه ده. ایا زده کونکی په *مثبت مخنیوي پلس/جمع* کې برخه اخلي یا نه! د منځني ښوونځي نصاب، د دوی د والدینو یا سرپرست انتخاب (خوښه) دی. ستاسو د زده کونکي د کورس درجه (نمره) به اغیزمنه نشي که چیرې دوی نه غواړي په پروګرام کې برخه واخلي. تاسو په هر وخت کې د خپل ماشوم له دې پروګرام څخه د لرې کولو انتخاب کولی شئ.

د زده کونکو به د پروګرام اغیزمنتیا ارزولو لپاره سروې وشي او د پرهیز، رضایت، جنسي ارادې، د حمل مخنیوي کارولو، د هدف ترتیب، د صحي او غیر صحي اړیکو پیژندلو، د موضوع سره آرامتیا او د ډیموګرافیک معلوماتو راټولولو په اړه پوښتنې ترې وشي. د سروې کاپي بیاکتنه د والدینو د مخکتني په شپه کې کیدی شي. د پروګرام ارزونې سروې ناپیژندویه ده. د سروې د ځوابونو څخه کوم راپورونه به په لنډیز کې وي. راپورونه او سروې به د پروګرام برخه اخیستونکو پیژندنه نه کوي. سرپرستان دا اختیار لري چې د خپل زده کونکي لپاره د سروې څخه بهر ایستل غوره کړي، پداسې حال کې چې لاهم په پروګرام کې برخه اخلي.

**ښوونځی به د والدینو مخکتني شپه کوربه کړي چیرې چې تاسو به د *مثبت مخنیوي پلس/جمع!* نصاب نصابي عمومي کتنه ترلاسه کړئ.**

**مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي د مثبت مخنیوي پلس/جمع سایټ همغږي کونکي سره د خپل انفرادي ښوونځي والدینو مخکتني شپې نیټې لپاره وګورئ.**

**که چیرې تاسو د والدینو په مخکتني شپې کې د ګډون کولو وړ نه یاست، د نورو معلوماتو لپاره د QR کوډ سکین کړئ:**

**که چیرې تاسو نورې پوښتنې لرئ مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي سایټ کې د مثبت مخنیوي پلس/جمع سایټ همغږي کونکي سره اړیکه ونیسئ.**

که چیرې تاسو **نه** غواړئ چې ستاسو ماشوم په پروګرام یا د پروګرام په سروې دواړو کې برخه واخلي، مهرباني وکړئ لاندې بکسونو څخه یو په نښه، لاسلیک کړئ او دا فورمه بیرته راستانه کړئ.

---

☐ زما زده کوونکی، ______________________________، د پروګرام په سروې کې برخه **نشي** اخیستلی، مګر **کولی شي** په پروګرام کې برخه واخلي.
(د زده کونکي چاپ/واضح نوم)

☐ زما زده کوونکی، ______________________________، په پروګرام کې برخه **نشي** اخیستلی.
(د زده کونکي چاپ/واضح نوم)

______________________ د والدین/سرپرست لاسلیک

______________________ نېټه

______________________ د زده کونکي د ID (پیژندنې) شمیره